DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۷۹۰
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

PROPERTY OF ACKU

اشارهٔ ضمنی مقام عربستانی به درخواست غرب برای ایفای نقش در افغانستان

یک مقام آل سعود به طور غیرمستقیم از درخواست غرب برای ایفای نقش در افغانستان خبر داد.

به گزارش الشرق الاوسط، شاهزاده سلمان بن عبدالعزیز، امیر منطقهٔ ریاض اعلام کرد: عربستان سعودی خواستار ایفای نقش گسترده در افغانستان نیست.

وی با اشاره به درخواست های غرب، به ویژه امریکا ص۳

لسم کال - دويمه دوره، ۷۹۰ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۵۷ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ دغبرگولي ۹ مه - د يکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الثاني ١٦ مه ۲۰۱۰ د مې ۳۰ مه

بودجهٔ جدید امریکا برای ادامهٔ جنگ افغانستان



مجلس سنای امریکا، روز گذشته با افزایش تعداد عساکر آن کشور در افغانستان، بودجهٔ آن ها را تصویب کرد.

اما این مجلس تقاضای تعیین جدول زمانی برای خروج نیروهای امریکایی از این کشور را رد کرد.

در سنای امریکا، تعدادی از دموکرات ها در زمینهٔ تعیین جدول زمانی برای خروج نیروهای امریکایی از افغانستان مخالفت دارند، اما شماری از این تصمیم حمایت می کنند و طوری به نظر می رسد که درز ایجاد شده در قصر سفید در همین مورد، رو به افزایش است.

انتظار می رود که مجلس سنای ایالات متحده، در ماه آینده، یک قانون را به خاطر تمویل مصارف جنگی پیشکش کند.

۳۳ میلیارد دالر که به خاطر مصارف جنگ از سوی سنای امریکا تصویب شد، توسط ۳۰ هزار عسکری مصرف خواهد شد که پارسال بارک اوباما رییس جمهور امریکا، فرستادن آن ها را به افغانستان اعلان کرد.

انتظار می رود، بخشی از این پول برای عساکر امریکایی در عراق نیز، مصرف شود.

چهار میلیارد دالر دیگر به وزارت خارجهٔ امریکا تعلق می گیرد که در امور ملکی افغانستان و هم چنان همسایهٔ این کشور یعنی پاکستان، مصرف خواهد شد.

بودجهٔ نو برای مصارف نظامی عساکر امریکایی در افغانستان با ۶۷ رای موافق و ۲۸ رای مخالف از سوی سنای امریکا تصویب شد.

بیشتر جمهوری خواهان به تصویب این بودجه مخالفت داشتند و آنها می گفتند، نگرانی دارند که به جز از کاهش پولی سایر برنامه ها، برای جمع آوری این پول راه دیگری باقی نمانده است. اما در عین حال، دموکرات ها از تصویب ص۴

دولت آلمان و تعبیرهای ضد و نقیض از ماموریت نیروهای این کشور در افغانستان

اظهارات رییس جمهور آلمان در خصوص انگیزهٔ دولت از فرستادن نیرو به افغانستان اکنون بر شدت بخشیدن به مناقشات درخصوص انگیزهٔ حضور نیروهای این کشور در افغانستان دامن زده است.

کارل تئودور تسوگوتنبرگ، وزیر دفاع آلمان در خصوص اظهارات پیشین هورست کهلر، رییس جمهور آلمان در خصوص منافع اقتصادی حضور نیروهای آلمان در افغانستان تاکید کرد که حضور نیروهای آنها در افغانستان تنها با توجیهات اقتصادی صورت نمی‌گیرد.

گوتنبرگ گفت: مسألهٔ بیشتر بر سر حضور نیروهائ ما در قالب ماموریت سازمان ملل در افغانستان است که مبارزه با تروریزم و حفظ ثبات در منطقه توجیه آن محسوب می‌شود. به عبارت دیگر، باید گفت که توجیهات و منافع اقتصادی در ارتباط با سیاست امنیتی ما مطرح می‌شود.

گوتنبرگ به عنوان مثال به حضور نیروهای دریایی آلمان در شاخ آفریقا برای مبارزه با دزدان دریایی آن هم با هدف حفظ امنیت تجارت دریایی اشاره کرد.

کهلر که پیشتر از افغانستان دیدار کرده، گفته بود، کشوری چون آلمان که بر تجارت خارجی متمرکز شده است، باید بداند که در شرایط بحرانی و موارد ضروری انجام عملیات‌های نظامی برای حفظ منافع آنها برای مثال حفظ امنیت راه‌های تجاری و جلوگیری از بی‌ثباتی‌های منطقه‌یی ضروری است که از این طریق، تجارت و در نتیجه، فرصت‌های شغلی و درآمدی آنها تضمین می‌شود.

سخنگوی کهلر بعدها اعلام کرد که اظهارات رییس جمهور آلمان در ارتباط با افغانستان مطرح نشده است.

آنگلا مرکل، صدراعظم آلمان تاکنون از تحلیل اظهارات کهلر اجتناب کرده است.

با این حال، احزاب مخالف آلمان انتقادات بسیاری را از اظهارات کهلر داشته‌اند. به گونه‌یی که توماس اوپرمن، یکی از نماینده گان حزب سوسیال دموکرات در خصوص اظهارات کهلر گفت که قانون اساسی اجازهٔ جنگ اقتصادی را نمی‌دهد. ص۳

د ولسي جرگې اعتصاب دويمې اونۍ ته وغځېد

د افغانستان ولسي جرگې غړو د شنبې په ورځ هم د تېرې اونۍ په څېر، خپل غلي اعتصاب ته دوام ورکړ. دوی په دې ورځ هم وويل، ترڅو چې دولت د دوی اعتراضونو ته مثبت ځواب ونه وايي، اعتصاب ته به نورهم دوام ورکړي. دوی له دولته غواړي، چې د کابينې يوولس تنه غړي وروپېژني او د اضطرار د کومېټې رييس محمد کريم خليلي دې، يا ولسي جرگې ته حاضر او يا دې د اضطرار د کومېټې له رياسته استعفا ورکړي.

جرگې پرون وويل، ترڅو چې دولت د دوی د څلورو قانوني نيوکو په هکله جدي او پرته له ځنډه عمل ونه کړي، دوی به پر هېڅ يوې موضوع هم بحث ونه کړي او اعتصاب ته به دوام ورکړي.

د جرگې رييس محمد يونس قانوني وويل: "ولسي جرگه قانون جوړونکی ارگان دی او موږ هڅه کوو، چې تر وروستۍ ورځې پورې له قانون څخه دفاع وکړو.



زموږ د اعتراضونو په هکله د دولت اقدام يوقانوني عمل دی، خو دولت تراوسه دا عمل نه دی کړی او موږ خپل اعتصاب ته دوام ورکوو:"

ولسي جرگې تېره ۳مخ

طالبانو د نورستان برگ متال ولسوالي ونيوله

وسلوالو طالبانو تر يوې اونۍ جگړو وروسته بلاخره د نورستان برگ متال ولسوالي له دولتي ځواکونو ونيوله.

وسلوال طالبان وايي، چې د دې ولسوالۍ د نيولو په ترڅ کې يې گڼ شمېر افغان پوليس وژلي او ډېره اندازه وسله هم لاس ته ورغلې ده.

په نورستان کې د پوليسو چارواکي هم د دې ولسوالۍ له لاسه ورکول تاييدوي او وايي، چې له هغې يې تاکتيکي شاتگ کړی دی.

د کورنيو چارو وزارت وياند وملنه، چې دوی د ولسوالۍ له مرکزه شاتگ کړی. زمري بشري د خپلوځواکونو شاتگ تاکتيکي وباله ۳مخ

يو شمېر وکيلان:

د ولسمشر دويم مرستيال کريم خليلي يوازې خپل قوم پالي

د يوه ولسمشر مرستيال ته نه ښايي، چې يوازې له يوه قوم څخه دفاع وکړي

د ولسي جرگې يو شمېر غړو، د ولسمشر دويم مرستيال کريم خليلي په قومپالنې تورن کړ.

کريم خليلي د روانې مياشتې پر دويمه، د ميدان وردگ بهسودو ولسوالۍ ته تللی دی، چېرته چې د هزاره او کوچيانو ترمنځ د تېرو کلونو په څېر سږکال يو ځل بيا د څړځايونو پر سر نښته وشوه.

کريم خليلي، چې د پېښو پروړاندې د مبارزې ملي کومېټې مشري هم پر غاړه لري، تراوسه په بهسودو کې دی.

په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو استازې ارين يون وايي، چې خليلي په دې کړنې سره وښودله، چې دی يوازې د هزاره گانو دويم مرستيال دی.

هغې زياته کړه: ((د يوه ولسمشر مرستيال ته نه ښايي، چې يوازې له يوه قوم څخه دفاع وکړي.))

کريم خليلي په سيمه کې له هزاره وو سره په يوه گډه ناسته کې ۳مخ

له سولې سره مخالفت که د سولې له مشورتي جرگې سره مخالفت؟

۲

ACKU

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

تشدید فعالیت های نظامی مخالفان و سرنوشت مبهم جرگهٔ صلح

در حالی که انتظار می رود، با اشتراک صدها رییس قبیله یی، مقام های دولتی، نماینده گان مردم و دیپلوماتان خارجی جرگهٔ صلح ملی طی چند روز آینده به هدف رایزنی و گفتگو در خصوص چگونگی راه اندازی مذاکرات صلح با مخالفان مسلح، در کابل برگزار گردد، مخالفان همچنان به حملات شان بر مراکز ناتو، دولتی و تاسیسات عام المنفعه شدت بخشیده اند. در تازه ترین مورد از این خشونت ها، روز گذشته ولسوالی برگمتال ولایت کنر در نتیجهٔ حملات پی در پی شش روزهٔ مخالفان سقوط و عملا در تصرف طالبان قرار گرفت.

افزون براین، وضعیت دیگر مناطق از جمله جنوب و شرق کشور نیز بهتر از این نیست؛ خشونت های فزایندهٔ مخالفان و عملیات های نیروهای ناتو و امریکایی مردم را به ستوه آورده و از زنده گی بیزار ساخته است.

در همین حال، جرگهٔ ملی صلح نیز در راه است؛ قرار اظهارات مقام های مسوول، این جرگه روز چهارشنبه آینده برگزار می گردد. هدف اساسی از برگزاری این جرگهٔ بزرگ که با هزینهٔ صدها هزار دالر، جستجوی راه هایی است که مبنا و اساس گفتگوهای آینده با مخالفان مسلح را تشکیل و پی ریزی می نماید. مخالفانی که همچنان به خشونت ها و حملات شان ادامه داده و سخنگویان رسمی شان از قبل بارها اشتراک نماینده گان شان در چنین نشستی را رد و کارایی آن را به باد مسخره گرفته اند.

به هر صورت، همزمان با تدویر جرگهٔ صلح در کابل، تشدید عملیات و فعالیت های نظامی مخالفان و سقوط ولسوالی برگمتال که نقش استراتیژیک آن غیرقابل انکار است، نشاهندهٔ این است که شورشیان به این جرگه و اگر مگرهایی که در خصوص صلح و گفتگو در کابل در جریان است، هیچ ارزشی قایل نبوده و به اصطلاح عامیانه به آن " توتی هم اهمیت نمی دهند".

با توجه به این موضوع، پرسش اساسی یی که در این راستا مطرح می شود، این است، در حالی که مخالفان مسلح همچنان به فعالیت های شان ادامه و حتا به آن تشدید بخشیده اند، آیا جرگهٔ صلح با این همه سازوبرگ، آماده گی های دست اول و درجه یک، کاری را به جایی خواهد برد، آیا این مسأله، نتایج و دستاورهای این جرگه را زیر پردهٔ ابهام نخواهد کشید؟ مهمتر از همه، اینکه زمانی که این جرگه به پایان رسد، ولی کارایی آن همانند جرگه های گذشته از جمله، جرگهٔ امن منطقه یی در حد صفر باشد.

در حاشیهٔ روند اوضاع جاری سیاسی – امنیتی کشور، این همه پرسش هایی است که مردم را به کارایی و موثریت این جرگه بیش از پیش بی باور ساخته است؛ چیزی که می تواند، نمایشی بودن و تعریف و تعبیرهای سمبولیک از این جرگه را پررنگ تر ساخته و سرنوشت آن را همانند جرگه ها و نشست های گذشته از این دست، رقم بزنند.

هدف څه دی؟

له سولې سره مخالفت که د سولې له مشورتي جرگې سره مخالفت؟

میاگل اروال

افغانان سولې ته سخت لېوال دي، داځکه چې څه د پاسه درې نیمې لسیزې کېږي، د جگړې پر مصیبت اخته دي او د عافیت په قدر هغه پوهېږي، چې مصیبت ورپېښ وي، کله چې کوم څوک د سولې غږ پورته کړي، موږ یې په اوربدلو خوښېږو او کله چې بیا د دغه غږ پر وړاندې خنډونه اچول پیل شي، بېرته زموږ په ولس کې د ناهیلۍ څپې راولاړې شي. له بده مرغه چې په هېواد کې دننه او ځینې بهرنۍ کړۍ شته، چې د سولې راتگ ځان ته یو خطر بولي.

وایي چې که یو څوک اوبو اخیستی وي، نو هر خس و خاشاک ته لاس اچوي، موږ چې د جگړې له امله د وینو سیلابونو لاهو کړي یو، دې ته هم سترگې په لار یو چې په دې نژدې ورځو کې به د سولې ملي مشورتي جرگه جوړه شي. که څه هم زه د نورو یو شمېر افغان څېړونکو په څېر د دغې جرگې پایلو ته د شک په سترگه گورم او ډېر باوري نه یم چې د افغانانو د هیلو غوټۍ به وغوړوي، خو دا جرگه د یوه ښه گام په حیث تاییدوم.

باور لرم، چې د افغانانو سوله درې مخالف اړخونه لري، چې د اهمیت له پلوه په دې ډول دي:

۱. د ښاغلي کرزي په ایتلافي اداره کې یو شمېر افراد او اشخاص.

۲. د ښاغلي کرزي په ملاتړ راغلي ایتلافي او د ایساف بهرني ځواکونه او هېوادونه یې.

۳. په خپله افغان وسلوال مخالفان (طالبان، حزب اسلامي او نور).

۴. که د ښاغلي کرزي د ادارې په دننه کې د سولې مخالفانو ته یوه کتنه وکړو، لیدل کېږي، چې دغه بړیخي د ځانگړو اهدافو له مخې د هغې سولې مخالف دي، چې کرزی یې غواړي. د مثال په ډول: څه موده وړاندې د ښاغلي کرزي دواړو مرستیالانو په ډاگه څرگنده کړه، چې که کرزی له طالبانو سره سوله وکړي، ښایي ووژل شي، خو دا یې و نه ویل، چې په څه ډول به ووژل شي.

دغه راز په دولت کې د شامل اپوزېسیون مشر ډاکټر عبدالله عبدالله او د هغه د ((تغییر او امید)) په نامه د ایتلاف ویاند د غبرگولي پر ۵ نېټه په ډاگه وویل، چې: د سولې ملي مشورتي جرگه ملي جرگه نه ده، موږ ته په کې بلنه نه ده راکړل شوې، نو ځکه په کې گډون نه کوو. د دې ترڅنگ د افغانستان ولسي جرگې هم گوتڅنډنه وکړه، چې که د دوی غوښتنې و نه منل شي، ولسي جرگه به هم د سولې په مشورتي جرگه کې برخه وانه خلي، کېدای شي یو شمېر نورې ډلې هم په همدې لاره لاړې شي.

– که څه هم تراوسه بهرنیو هېوادونو، د هغوی پوځونو په افغانستان کې د ناټو او ایساف تر مشرۍ لاندې خپل مخالفت له طالبانو سره د سولې په برخه کې څرگند او ه، خو دغه اندېښنه د کرزي په هغه سفر کې چې امریکا ته یې د اوباما د لیدلو لپاره کړی و، وایي چې تر یوه حده رفع شوې ده، خو په عمل کې به ولیدل شي، چې بهرني هېوادونه او په افغانستان کې مېشت پوځونه څومره له خپلو حکومتونو سره همغږي دي. که دا قوتونه هم له سولې سره موافق نه وي کېدای شي، چې د سولې له مشورتي شورا سره مرستې و نه کړي.

– دریېمه ډله خو افغان وسلوال مخالفان دي، چې عملاً د دولت پر ضد پر مقاومت او جگړه اخته دي. که دوی هم دې مشورتي جرگې ته راونه بلل شي او له همدغه امله په بهانو او پلمو لاس پورې کړي، خدای خبر چې د مشورتي جرگې پایلې هومره گټورې وخېژي. که دوی خپل ځینې درانه شرطونه بېرته تکرار کړي او دولت هم له خپل دریځه و نه ښوري، اساسي قانون او نورو دولتي موازینو ته غاړه ایښودل لازم وگڼي، نو به وپوهېږو، چې دغه ټوله هڅه به برباد شي.

افغان ولس چې اوس د جگړې له اوره سترې او ستې شوی نه غواړي، چې نور یې په مېنه کې د اور د لمبو لوخړې پورته شي. داځکه چې دې اوږدو او تپل شویو جگړو زموږ مادي او معنوي شتمنۍ لوټ کړې دي. افغانان اوس په دې ښه پوهېدلي چې دغه پردۍ جگړې د پردیو له خوا پر دوی تپل شوي او پر مخ بېول کېږي. افغانان له ټولو پردیو څخه غواړي، چې د پردیو د پردیتوب په پلانونو کې دي

۳مخ

ورود افغان ها به جامعهٔ فرهنگی بریتانیا

رضا آرمیا

افغان های مهاجر در بریتانیا، سعی می کنند کم کم حضور خود در جامعهٔ فرهنگی بریتانیا را پررنگ تر کنند و توجه به چند فرهنگی بودن بریتانیا به ویژه لندن، زمینهٔ چنین کاری نیز فراهم است. یکی از نمونه های چنین تلاش ها، تلاش های جوانان افغان برای راه اندازی تیم های فوتبال است که اخیرا یکی از آنها توانست، در یکی از رقابت های محلی بریتانیا برندهٔ جام این رقابت ها شود.

تیم فوتبال پیروزی آکسبریج، شاید اولین تیم سراسر خارجی نباشد که یکی از جام های معتبر ورزشی در بریتانیا را تصاحب می کند. اما بدون شک اولین تیمی است که جامعهٔ افغان های مهاجر در بریتانیا را در شش ماه گذشته با خود به و لوله وشور و اضطراب و سرانجام خوشحالی رساند.

وقتی در بازی فاینل جام حذفی منطقهٔ میدلسکس بریتانیا، کاظم حصاری ضربهٔ آزاد جاوید سهرابی را با ضربهٔ سر وارد دروازهٔ تیم کرایس چرچ کرد، برای خیلی از تماشاگران و فوتبال دوستان افغان در لندن لحظه یی رویایی بود. تا زمانی که سوت پایان بازی را در دقیقهٔ نود داور بنوازد، نبض تماشاچیان افغان با مژه های شان می تپید.

تیم پیروزی را یک عده از بازیکنان جوان با اوسط سنی ۲۰ ساله تشکیل داده اند. جوانانی که فقط چند سال پیشتر با

ص۳

له سولې سره مخالفت که د سولې...

موږ ته د جګړو سوغاتونه نه رالېږي.

د دې ترڅنګ اوس په هېواد کې ځینې کړی، چې له سولې سره مخالفت لري، په دې او هغه پلمه غواړي، چې د سولې په نامه د مشورتي جرگې د جوړېدو مخه ونیسي. په اصل کې دوی نه غواړي، چې دې هېواد ته دې سوله راشي. که چېرې سوله راځي او په هغې کې دې ټول هېوادوال، برخه ولري، بیا نو دوی هغه څه چې خپته یې پرې اچولې یا یې غصب کړي دي، هغه ټول له لاسه ورکوي. که دغه دولتي امتیازات له دوی نه واخیستل شي، بیا به دوی ښه وپوهېږي، چې څومره وزن لري.

همدا اوس داسې اټکل کېږي، چې د ملي شورا د ولسي جرگې اعتصاب، د هزاره او پښتنو ترمنځ په میدان وردګو کې روانې جګړه ییزې شخړې او د سولې په مشورتي جرگه کې برخه نه اخیستل ټول هغه څه دي، چې د تغییر او امید په نامه ایتلاف یې مشري کوي. د ماندګار ورځپاڼې د ۳۳۰ گڼې په لومړي مخ کې هغه عکس چې: ((در جرگه حکومتی اشتراک نمی کنیم)) تر عنوان لاندې خپور شوی، زموږ د مدعا ښه مصداق دی او هغوی اصلا له مخالفانو سره سوله نه غواړي او پلمې کوي.

د ولسي جرگې اعتصاب دویمې...

اونۍ د شنبې په ورځ له دولت څخه وغوښتل چې، د څلورو قانوني موضوعاگانو په هکله دې اجراات وکړي او ولسي جرگې ته دې یې په رسمي توگه وسپاري.

ولسي جرگه وایي، دولت دې لومړی، د کابینې پاتې یوولس غړي ژر تر ژره ور وپېژني.

دویم د جمهوررییس دویم مرستیال او د اضطرار د کومیټې رییس محمد کریم خلیلي دې، جرگې ته حاضر او د طبیعي پېښو له امله دې زیانمنو شویو خلکو ته، د کومېټې د اجراآتو په هکله معلومات ورکړي او که نه نو د کومېټې له ریاسته دې استعفا ورکړي.

د اساسي قانون د څارنې کومېټه دې وروپېژني او د دولت د سیاست اساسي کرښې دې، د بحث لپاره وروسپاري.

د جرگې غړو ازادي رادیو ته وویل، چې دا له امکانه لرې نه ده، چې د جرگې یوشمېر غړي د حکومت پلویان هم دي، خو په دې موضوع کې ټول سره یو شوي دي. سایرې شریف وویل: "له قانون څخه دفاع د جرگې د هرغړي دنده ده. کېدای شي ځیني وکیلان د حامد کرزي پلویان هم وي، خو دا یو قانوني هڅه ده او ټول په کې یو موټی دي."

په دې هکله د ولسمشر ویاند رسنیو ته ویلي، چې ولسمشر هم غواړي چې ژر ترژره د کابینې پاتې غړي جرگې ته وروپېژني، خو امریکا ته د ده سفر او د سولې مشورتي جرگې ته د دولتي چارواکو د تیاریو هڅو، دا موقع نه ده برابره کړې، چې د کابینې پاتې غړي دې جرگي ته وروپېژني. د دې ترڅنګ کریم خلیلي هم تراوسه جرگې ته نه دی ورغلی.

یو شمېر وکیلانو کریم خلیلي په ...

ویلي، چې د دوی ستونزه به خامخا هواروي، که هغه ورته د وینې په قیمت هم تمامېږي.

یون، همدغو څرگندونو ته په اشارې وایي، چې ولسمشر ته ټولو قومونو رایه ورکړې، هغه د ټول هېواد ولسمشر دی او باید مرستیالان یې هم همداسې وي.

په ولسي جرگه کې د کندوز استازې فاطمه عزیز هم، د یون څرگندونې تایید کړې.

عزیز وویل، چې په داسې یوه ملي مسله کې د ولسمشر دویم مرستیال ته نه ښایي، چې د یوه قوم دفاع وکړي.

هغه وایي، چې بهسودو ته د خلیلي سفر د پېښو پروړاندې د مبارزې د ملي کومېټې کارونه هم، له ستونزو سره مخ کړي دي.

عزیز زیاتوي: ((د دویم مرستیال په توگه مو ترې داسې تمه نه درلوده.))

په دغې جرگه کې د کابل استازې میراحمد جوینده وویل، چې خلیلي په خپل دې حرکت سره واقعاً دا ثابته کړه، چې یوازې خپل قوم پالي.

هغه وایي، چې که دی په کابل کې پاتې وای، دلته به یې کارونه هم له خنډ سره مخ نه وو او یو اړخیزه پرېکړه به یې هم نه وای کړې.

د مشرانو جرگې مشر صبغت الله مجددي، د غبرگولي پر ۴مه، د جرگې په عمومي غونډه کې ویلي وو، چې کریم خلیلي په بهسودو ولسوالۍ کې هزاره قوم د کوچیانو پروړاندې جگړې ته هڅولی دی.

خو خلیلي، د خپل سفر په اړه په لیکلي پیغام کې ویلي وو: ((بهسودو ته تگ مې د جگړې او ناورین د تېزولو لپاره نه دی، نه د وینې تویونې لپاره دی او نه د قوم پالنې... بلکې د سیمې د ارامش او ټیکاو لپاره دی...))

بهسودو ته د خلیلي د سفر د نوعیت په اړه، د هغه دفتر او ارگ په یوه خوله نه دي. د ولسمشر حامد کرزي ویاند ویلي، چې خلیلي د ولسمشر د حکم د تطبیق او د څارنې په موخه تللی دی.

خو د خلیلي ویاند قربان علي فصیحي وایي، چې خلیلي په شخصي هوډ سیمې ته تللی او سفر یې غیر رسمي دی.

د نوموړي په وینا، په سیمه کې د خلکو بد حالت خلیلي اړ کړ، چې لاړ شي او د خپلو خلکو څنگ ته ودرېږي.

په میدان وردگو کې، د څړځایونو پر سر د کوچیانو او ځایي هزاره وو ترمنځ په تېرو درېیو کلونو کې څو ځلې د پسرلي په موسم کې وسلوالې نښتې شوې دي.

هر کال له نښتې وروسته د دغې ستونزې د هوارې لپاره کمېسیونونه جوړېږي، خو لا دغه ستونزه روانه ده.

د پژواک د راپور له مخې، سږ کال دغه ستونزه د تېرې میاشتې پر ۲٦ مه، رامنځ ته شوه، دواړو غاړو ته مرگ ژوبله واوښته، کورونه وسوځول شول او مالونه چور شول.

په اروزگان کې مو ولسي خلک...

کسانو کورنیو ته چې له بده مرغه په دغې پېښه کې وژل شوي دي، وار له مخې یوه اندازه پیسې د تاوان په توگه ورکړل شوې دي. زه اندازه نه شم ویلای، ځکه چې دا د هرې پېښې په څرنگوالي پسې اړه لري.))

د بي بي سي د راپور له مخې، په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو او هوایي بمباریو کې د ولسي خلکو مرگ ژوبله پر یوه ناندریزه مسله اوښتې او ان ویل کېږي چې په تېرو څو میاشتو کې د واشینگټن او کابل د اړیکو د خړ پړتیا یو لامل هم دغه چاره وه.

خو د ناټو ځواکونو ویاند وایي، چې دوی لا هم د جگړې په حال کې دي او د دې ضمانت نه شي کولای، چې بیا به ولسي خلکو ته زیان نه اوړي: ((موږ د دې ضمانت نه شو کولای، چې زموږ په عملیاتو کې به ولسي خلکو ته زیان نه اوړي. موږ ډېره هڅه کوو چې بیا دغه ډول پېښه تکرار نه شي او یا چا ته زیان و نه رسېږي. خو موږ د جگړې په حالت کې یو او د دې کار ضمانت نه شو کولای.))

ولسمشر کرزي په بیا بیا له بهرنیو ځواکونو څخه غوښتي چې ولسي خلکو ته مرگ ژوبله ور وا نه روي. نوموړي امریکا ته پخپل وروستي سفر کې له خپل امریکایي سیال ښاغلي اوباما سره هم د ولسي وگړو خوندیتوب په اړه خبرې اترې وکړې.

طالبانو د نورستان برگ متال ولسوالي ...

او ویې ویل، چې پر دې ولسوالۍ پاکستاني طالبانو برید کړی. بشري تېنگار وکړ چې د شاتگ پر مهال پولیسو او امنیتي ځواکونو ته مرگ ژوبله نه ده اوښتې.

پر دې ولسوالۍ، چې د پاکستان په پوله کې ده، د افغانستان د دولت وسلوالو مخالفانو تېرې دوشنبې پر ورځ بریدونه پیل کړل. د عملیاتو په ترځ کې افغان پولیسو بیا بیا له مرکزي حکومت او نړیوالو ځواکونو وسلو او هوایي ځواک د مرستې غوښتنه وکړه، خویوازې یو وار د کورنیو چارو وزارت یوه اندازه مهمات دې ولسوالۍ ته ورسول، مگر په ولسوالۍ کې پر تو ځواکونو د نورو مرستو غوښتنه کوله.

د نورستان پخوانی ولسوال مولوي اسماعیل وایي، ورمه شپه طالبانو په جگړه کې تر یوې وقفې وروسته له څو لورو پر ولسوالۍ برید وکړ، د ولسوالۍ ختیزې او لوېدیزې پوستې یې ونیولې او اوس دوی یوازې جنوبي پوستې په کنټرول کې لري، خو که په دوو – درېیو ساعتونو کې مرسته ورونه رسېده، دا پوستې به هم له لاسه ورکړي.

وروسته څرگنده شوه چې پاتې پوستې هم ترې طالبانو نیولې دي.

هغه ادعا وکړه چې له پاکستان څخه گڼ شمېر طالبان سیمې ته ورغلي او په دې جگړه کې د دوی پر ضد جنگېږي.

نور راپورونه وایي چې ورمه شپه د ناټو الوتکو پر سیمه څو بمونه غورځولي. خو داسې ښکاري چې دواړو ښکېلو خواوو ته یې مرگ ژوبله اړولې وي، ځکه چې د دواړو خواوو مورچې یو بل ته ډېرې نژدې دي.

په همدې حال کې د تاند وېبپاڼې د راپور پر بنسټ، د نورستان د سرحدي پولیسو قوماندان جنرال مموزي وویل، چې د برگ متال په جگړه کې شاوخوا شپږسوه طالبان برخه لري، چې تر نیمایي زیات یې پاکستاني طالبان دي.

ده مخکې د مولانا فضل الله د وژل کېدو ادعا هم کړې وه، خو وروسته یې خپله خبره بېرته واخیسته.

له نورستان څخه د یوه بل خبر له مخې ملافضل الله ورمه ورځ په کامدېش ولسوالۍ کې د خپلو لسگونو پلویانو په منځ کې لیدل شوی.

دولت آلمان و تعبیرهای ضد و نقیض از ...

رییس فراکسیون سبزها نیز، از کهلر خواست که اظهارات خود را اصلاح کند.

رییس فراکسیون چپ‌ها نیز، اظهار داشت که اظهارات کهلر غیرمسوولانه است.

وی گفت: برای صادرات و تجارت آزاد ما، مطمینا هر کاری غیر از راه‌اندازی جنگ انجام می‌دهیم.

اشارۀ ضمنی مقام عربستانی به درخواست...

برای ایفای نقش ریاض در کابل ادامه داد: ما خواهان ایفای نقش در افغانستان نیستیم، بلکه این نقش ها هستند که به سراغ ما می آیند.

امیر منطقه ریاض که بعد از دیدار با یوناس گار استور، وزیر خارجۀ ناروی در جمع خبرنگاران سخن می گفت، ابراز امیدواری کرد که مناقشۀ افغانستان به زودی به پایان برسد.

این در حالی است که خبرها حاکی از پذیرش درخواست عربستان برای باز کردن سفارت خود در ناروی بعد از دیدار سلمان بن عبدالعزیز و گار استور است.

ورود افغان ها به جامعۀ فرهنگی ...

اشتیاق یک انجنیر شناخته شدۀ کمپیوتر افغان به نام داکتر ناصر سازش و چند دوست فوتبال دوست دیگرش گردهم آمدند و برای روزهای تعطیل شان یک تیم فوتبال ساختند.

ناصر سازش، استاد کمپیوتر پوهنتون برونل لندن بود که بیشتر از هر چیزی در ژورنال های علمی به عنوان پدیده یی در مسایل سخت افزاری کمپیوتر مطرح بود.

ابتدا تیم انجنیر ناصر و دوستان او در لیگ دوازده تیمی تابستانی افغان ها شرکت کرد. تیم خیلی ندرخشید، اما اشتیاق فوتبالیست های جوان را افزایش داد.

سال بعد آنها یک مربی کاربلد به نام شاکر وزیری را با خود داشتند و البته جمعیتی تازه یی از علاقه مندانی که روز های یکشنبه در مسابقات، آنها را تشویق می کردند.

در آن سال آنها درخشش بیشتری داشتند. اما سال ۲۰۰۵ دیگر آنها به نهایت هماهنگی با همدیگر رسیده بودند. تیمی که جام نایب قهرمانی لیگ افغانی را با اقتدار به خانه برد.

همان سال آنها وارد لیگ رسمی فوتبال جوانان(لیگ منطقه حیز) و حومۀ بریتانیا شدند.

تیم جوانان که حالا پیروزی نام گرفته بود، سیر صعودی اش را از فوتبال ذوقی به فوتبال حرفه یی ادامه داد و دو سال بعد به عنوان تیم جدی در لیگ دستۀ سوم میدلسکس کانتی لندن حضور یافتند.

کم کم از لیگ دستۀ سه به لیگ دسته دو ارتقا کردند و در عین حال، طی دو سال ۲۰۰۷ و ۲۰۰۹ قهرمانی لیگ افغانی را هم کسب کردند.

آنها به عنوان تیم افغان ها در لیگ بازی های دستۀ دو (ام اس سی) شناخته می شدند. حالا آنها حمایت بی دریغ افغان ها را با خود داشتند. شرکت های مطرح افغانی درلندن از جمله آریانا تراول از آنها حمایت کردند.

با این حمایت ها آنها تیمی کم دغدغه تر شدند. تیمی که با پشتیبانی اشتیاق و بلند پرواری خودشان وحمایت افغان ها در مسابقات جام حذفی کانتی میدلسکس شرکت کردند.

این جام که در آن از هر ۲۰ لیگ مختلف مسلکی، نیمه مسلکی و ذوقی، ۲۰ تیم شرکت می کنند، معتبرترین فرصتی است که در آن، تیم های کم توان تر نیز، می توانند خودنمایی کنند.

تیم پیروزی در دور اول، تیم اپانا سوتال را شکست داد، در ماه دسمبر تیم وریلال را با نتیجۀ پنج بر یک از گردونه حذف کرد. درنیمۀ نهایی تیم مشهور هیلندون را با نتیجۀ چهار بر سه شکست داد و بالاخره به فاینل رسید.

چیزی که به گفتۀ ناصرسازش برای آنها یک خواب، یک خیال و یک آرزو بود.

آرزو های جوانان فوتبال دوست افغان با اشتهای سیری ناپذیر تیم پیروزی برای پیروزی، با فتح جام به اوج رسید و حالا آنها با این فتح و محبوبیتی که بین افغان های مهاجر در بریتانیا کسب کرده اند. به پیشرفت های خیلی جدی تر می اندیشند.

دو دختر خودکشی کردند

یک دختر در ولایت کابل و دختر دیگر در ولایت هرات، دست به خودکشی زدند. مل پاسوال سیدعبدالغفار سید زاده رییس تحقیقات جنایی قوماندانی امنیۀ کابل گفت که یک دختر ۱۳ ساله حوالی ساعت ۷ صبح دیروز در قلعۀ عشرت خان ولسوالی کلکان کابل، خودکشی نمود.وی افزود: "حادثۀ زمانی اتفاق افتاد که والدین دختر به منزل یکی از اقارب شان رفته و دختر ذریعۀ ریسمان خود را در منزل حلق آویزنمود."سیدزاده در خصوص این رویداد جزییات بیشتر نداده، خاطر نشان ساخت که به استناد معلومات ابتدایی گمان می رود که دختر به تکلیف روانی مبتلا بوده باشد. به گفتۀ رییس تحقیقات جنایی قوماندانی امنیۀ کابل، با آنکه اقارب مقتول کسی را در پیوند به این قتل متهم نساخته، جسد غرض معاینات و تشخیص چگونگی قتل به طب عدلی انتقال یافته است. در یک رویداد مشابه، یک دختر ۱۸ ساله در شهر هرات نیز خودکشی نمود. سمونوال عبدالرووف احمدی سخنگوی پولیس حوزۀ غرب گفت که این دختر حمیرا نام داشت و شب گذشته، خود را در منزلش واقع ناحیۀ چهارم شهر هرات حلق آویز نموده بود. وی افزود که علت خودکشی هنوز مشخص نبوده، اما احتمال می رود که علت آن، مشکلات خانواده گی و فشار های روحی بوده باشد. سخنگوی پولیس حوزۀ غرب می گوید که پولیس کسی را دستگیر نکرده، اما تحقیقات در زمینه آغاز شده است.

ACKU

پاکستان هنوز هم مکان امنی برای گروه های دهشت افگن

ستار افغان

پاکستان بازار خوبی برای تروریستانی است که در جستجوی کمک و حمایت هستند. ده ها سازمان تروریستی تحت اصطلاحات مقدس اسلامی در این کشور فعالیت دارند که از آن جمله می توان از جیش محمد، لشکر طیبه، القاعده، جلال الدین حقانی، شبکهٔ سراج الدین حقانی و تحریک طالبان نام برد. لیست کامل این.سازمان ها خیلی طویل است. برخی از این سازمان ها، چون گروه تجزیهٔ طلب کشمیری لشکر طیبه، به صورت آزاد در سراسر پاکستان فعالیت می کنند. اما به نظر می رسد که هیچ کدام از دیگر آن گروه ها نیز، در فراهم سازی پول و اسلحه در این کشور با مشکل مواجه نمی شوند.

حسین حقانی پژوهشگر و سیاستمدار پاکستانی در نوشتهٔ (پاکستان: میان مسجد و ارتش) به درستی نشان می دهد که وابستگی های جهادی حکومت پاکستان به زمان تأسیس آن کشور به عنوان یک دولت ایدیولوژیک اسلامی بر می گردد. وی همچنان نشان می دهد که این نکته به حکومت هایی که به صورت مسلسل قدرت را در پاکستان در دست گرفتند نیز، بر می گردد. زیرا آنها از جهاد،هم به منظور به دست آوردن حمایت های داخلی و هم برای صدمه زدن به رقیب همیشه گی اش هندوستان استفاده کردند. او با توصیف اینکه ارتش چگونه تروریستان و جنگجویان آزادیخواه را از هم تشخیص می دهد، اشاره می کند که این یک مشکل سیستماتیک است. او می نویسد: "این دوگانگی و همزادی، یک مشکل ساختاری است که ریشه در تاریخ و سیاست های همیشه گی دولت پاکستان دارد، این مشکل صرفاً پیامد ناخواستهٔ تصمیم های اتخاذ شده از سوی برخی از حکومت های پاکستان نیست." اینکه حسین حقانی اکنون به حیث سفیر پاکستان در واشنگتن ایفای وظیفه می کند، پیچیده گی عجیبی در این مساله ایجاد می نماید. و این یک واقعیت غم انگیز است؛ زیرا به نظر می رسد که حکومت ملکی یی که او در واشنگتن از آن نماینده گی می کند، قدرت خیلی اندکی در دست دارد. در واقع، در یک سال اخیر، ارتش تمام قدرت را در اختیار گرفته است.

در ماه های اخیر، حکومت و ارتش پاکستان اقدامات شدیدتر ازهر زمان دیگر را در مقابل تروریستان در داخل خاک خود رویدست گرفته و نیروهای پاکستان رنج های شدیدی را متحمل شده است. با این حال، جنرالان پاکستانی در تلاش اند، تا تندروان مشکوک را تشخیص دهند. کسانی که مردم پاکستان را تهدید و بر آن ها حمله می کنند، در ماه های اخیر شدیداً مورد خشم و غضب ارتش پاکستان واقع شده اند. اما گروه هایی نیز، هستند که تهدید شان صرفاً متوجهٔ شهروندان افغانستان، هند و کشورهای غربی است و تنها اتباع همین کشورها را مورد حمله قرار می دهند. این گروه ها نه تنها از حملات ارتش پاکستان در امان اند، بلکه از طرف دولت و اردوی پاکستان به صورت همه جانبه حمایت هم می شوند.

تا زمانی که ارتش پاکستان بر اساس یک دید وسیع و کاملتر نسبت به منافع ملی آن کشور وارد عمل نشود- دیدی که توسعهٔ اقتصادی را راهی برای تأمین امنیت پاکستان می داند، نه بازی ها استراتیژیک در مقابل افغانستان و هند را- پاکستان همچنان به عنوان یک بازار گرم و مکان ایده آل برای فعالیت های تروریستان باقی خواهد ماند. که اثبات این ادعا را می توان در گرفتاری چندین گروه دهشت افگن پاکستانی دانست که توسط نیروهای امنیتی افغانستان (ریاست عمومی امنیت ملی) دستگیر و جنایت آنها را در ولایت غزنی علیه شاگردان مکاتب انجام دادند، یادآور شد.

بودجهٔ جدید امریکا برای ادامهٔ ...

بودجه حمایت کردند.

بیشتر اعضای سنای امریکا، در مورد تلفات جنگ در افغانستان هم نگرانی داشتند؛ زیرا تعداد عساکر کشته شدهٔ امریکایی در افغانستان اکنون به یک هزار تن افزایش یافته و قیمت این جنگ به سه صد میلیارد دالر رسیده است.

سناتور تام هارکین در مجلس سنای امریکا، در آغاز همین هفته گفته بود که او در حال حاضر، بی تحمل شده و حالا وقت آن فرا رسیده است که در بارهٔ این تفاوت ها فکر شود.

جیف بینجامین یک سناتور دیگر دموکرات گفته که به نظر او بی صبری ها زیاد شده، اما اینکه در مورد چه اقدام باید صورت گیرد، او نمی داند.

پیش از این، کانگرس امریکا بودجهٔ ۱۳۰ میلیارد دالری را به خاطر مصارف امسال برای افغانستان و عراق تصویب کرده بود.

ایالات متحده امریکا از سال ۲۰۰۱ میلادی تا حالا ۳۰۰ میلیارد دالر را برای مصارف ماموریت افغانستان اختصاص داده است.

امریکايي ځواکونه:

په اروزگان کې مو ولسي خلک وژلي

په افغانستان کې د مېشتو امریکايي ځواکونو له لوري په اوروزگان ولایت کې د فبروري پر یوویشتمه د ولسي وگړو د زیانونو په تړاو څېړنو او موندنو دړې میاشتې وخت ونیو.

دغو ځواکونو پخپلو موندنو کې چې اوس یې تازه یې خپرې کړې دي ویلي، د امریکايي ځانگړو ځواکونو په عملیاتو او د الوتکو په بمبارۍ کې تر ۲۳ پورې ولسي افغانان وژل شوي او ۱۲ نور په کې ټپیان شوي وو.

امریکايي ځواکونه وايي د خپلو څېړنو پایلې یې په افغانستان کې د ناټو او امریکايي ځواکونو قوماندان جنرال سټینلي مکریسټل ته هم سپارلې دي.

په موندنو کې ویل شوي، چې پېښه د ځواکونو په روزنه، د اړیکو په ټینگولو او پرېکړه کولو کې د یو شمېر نیمگړتیاوو له امله رامنځته شوې ده.

د امریکايي ځواکونو له لوري خپره شوې ویناپاڼه وایي، ښاغلي مکریسټل د یادو لاملونو د تعقیب امر کړی دی. دغه راز هغه ویلي په افغانستان کې د دوی تر ټولو مهم ماموریت دادی چې افغانان وساتي، خو د ده په ویناپه بې غوري سره د ولسي خلکو وژل او

یا ټپي کول زړه ماتوونکي دي.

ښاغلي کرېسټل ویلي دوی به د خلکو د باور د ترلاسه کولو لپاره ټول هغه څه وکړي چې کولای یې شي.

د دغو پلټنو مشري امریکايي جنرال ټیموتي مکهیل کوله.

د پلټنو پایلې ښیي، پر هغو درېیو گاډو باندې چې تر ۳۰ زیات ولسي وگړي په کې سپاره وو، د امریکايي ځانگړو ځواکونو او امریکايي هوايي ځواک له لوري په تېروتنه سره د اورپکو په گمان برید پرې وشو.

د ناټو ځواکونو له لوري په خپره شوې ویناپاڼه کې ویل شوي، چې د پېښې په تړاو په افغانستان کې د امریکايي او ناټو ځواکونو قوماندان جنرال مکریسټل سمدستي له ولسمشر کرزي سره ولیدل، د څېړنو او موندنو پر پایلو یې خبر کړ او بښنه یې وغوښته. دغه راز د ناټو ځواکونو یوویاند وین شینکس وایي، چې د قربانیانو کورنیو ته یې تاوان هم ور کړی دی: ((د هغو **۳مخ**

ACKU

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننگه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com